# المزمل

**مکی سورة دی ۲۰ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمُزَّمِّلُ ١

**ای( د وحې له هیبته) په جامه کې نغښتی خوبه وړیه!( ستا د راحت او آرام خوب وختونه تیر شول، اوس باید د یوه عظیم رسالت د سرته رسیدو لپاره ځان تیار کړې).**

قُمِ ٱلَّيۡلَ إِلَّا قَلِيلٗا ٢

**راپورته شه، د شپې اوږده برخه عبادت وکړه او لږه برخه دې( د خوب او استراحت شوه).**

نِّصۡفَهُۥٓ أَوِ ٱنقُصۡ مِنۡهُ قَلِيلًا ٣

**نیمایی برخه( عبادت ته ځانګړې کړه) یا له نیمایی نه هم څه کمه.**

أَوۡ زِدۡ عَلَيۡهِ وَرَتِّلِ ٱلۡقُرۡءَانَ تَرۡتِيلًا ٤

**او یا هم له نیمایی نه څه زیاته برخه( عبادت ته وقف کړه) او قرآن پکې ټکی په ټکی (او دقت او تدبر سره) ولوله.**

إِنَّا سَنُلۡقِي عَلَيۡكَ قَوۡلٗا ثَقِيلًا ٥

**مونږ تاته یو دروند کلام نازلوو( او د هغه د احکامو او هدایاتو د ابلاغ لپاره د پوره زغم او تحمل د طاقت د پیداکیدو تر ټولو غوره لار قیام اللیل دی).**

إِنَّ نَاشِئَةَ ٱلَّيۡلِ هِيَ أَشَدُّ وَطۡـٔٗا وَأَقۡوَمُ قِيلًا ٦

**ببشکه چې د شپې عبادت د نفس د تزکیی ( او د انسان د ظاهر او باطن د تطابق)او قرآن لوستلو لپاره ډیر مناسب وخت دی.**

إِنَّ لَكَ فِي ٱلنَّهَارِ سَبۡحٗا طَوِيلٗا ٧

**د ورځې په اوږدو کې خو ستا( شخصی او د دعوت د چارو) مصروفیتونه ډیر زیات دی( او کیدی شی د عبادت او الهی ذکر لپاره زیات فرصت پیدا نه کړې نو د زیات عبادت او تهجد لپاره درته شپه ډیر ښه فرصت دی).**

وَٱذۡكُرِ ٱسۡمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلۡ إِلَيۡهِ تَبۡتِيلٗا ﴿٨﴾

او( د خپلو ټولو مصروفیتونو سره سره شپه ورځ) د خپل رب ذکر یاد ساته او په پوره اخلاص او حضور قلب یوازې د الله تعالی عبادت کوه.

رَّبُّ ٱلۡمَشۡرِقِ وَٱلۡمَغۡرِبِ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَٱتَّخِذۡهُ وَكِيلٗا ﴿٩﴾

( او د اسلامی دعوت په ترڅ کې موجود مخالفتونه او کړاوونه په صبر او ثبات وزغمه او خپلې ټولې چارې) خپل هغه سرپرست او کارجوړوونکی ذات ته وسپاره چې د ختیځ او لویدیځ( ټولو کائناتو) رب دی او له هغه نه غیر بل خدای نشته.

وَٱصۡبِرۡ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَٱهۡجُرۡهُمۡ هَجۡرٗا جَمِيلٗا ﴿١٠﴾

او د کافرانو او مشرکانو خبرې هم په سړه سینه وزغمه او په نیکه او غوره توګه ترې ځان لیرې وساته.

وَذَرۡنِي وَٱلۡمُكَذِّبِينَ أُوْلِي ٱلنَّعۡمَةِ وَمَهِّلۡهُمۡ قَلِيلًا ﴿١١﴾

ما پریږده او په نعمتونو او مزو چرچو کې مست او ډوب تکذیبوونکی( د قریشو مشران او د مکې سرداران چې د اسلامی دعوت مخالفت ته یې ملا تړلې. او د ټاکلی اجل او یا عذاب تر راتګه) ورته لږ شان مهلت ورکړه.

إِنَّ لَدَيۡنَآ أَنكَالٗا وَجَحِيمٗا ﴿١٢﴾

مونږ (د هغوی لپاره) درانه ځنځیرونه او لمبې وهونکی اور تیار کړی دی.

وَطَعَامٗا ذَا غُصَّةٖ وَعَذَابًا أَلِيمٗا ﴿١٣﴾

او په ستونی کې نښتونکې خوراک او دردوونکی عذاب هم ورته تیار دی.

يَوْمَ تَرْجُفُ ٱلْأَرْضُ وَٱلْجِبَالُ وَكَانَتِ ٱلْجِبَالُ كَثِيبًا مَّهِيلًا ﴿١٤﴾

**هغه ورځ چې ځمکه او غرونه به ولړزيږي او غرونه به د شګو د ډيريو په شان روان شي.**

إِنَّآ أَرْسَلْنَآ إِلَيْكُمْ رَسُولًا شَٰهِدًا عَلَيْكُمْ كَمَآ أَرْسَلْنَآ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ رَسُولًا ﴿١٥﴾

**بيشکه مونږ يو پيغمبر( محمد صلى الله عليه و سلم) تاسو ته درليږلي چې ستاسو په اعمالو ګواه دی لکه څنګه چې مو فرعون ته پيغمبر استولی و.**

فَعَصَىٰ فِرْعَوْنُ ٱلرَّسُولَ فَأَخَذْنَٰهُ أَخْذًا وَبِيلًا ﴿١٦﴾

**خو کله چې فرعون د هماغه پيغمبر نافرمانی وکړه، په سخت عذاب مو اخته کړ.**

فَكَيْفَ تَتَّقُونَ إِن كَفَرْتُمْ يَوْمًا يَجْعَلُ ٱلْوِلْدَٰنَ شِيبًا ﴿١٧﴾

**( که نن تاسو کفر او شرک ته مخه کړئ) څنګه به د هغې ورځې له عذابه وژغورل شئ، چې شدت او هيبت يې ماشومان زړوی( او زور او قوت يې ختموی).**

ٱلسَّمَآءُ مُنفَطِرٌۢ بِهِۦ ۚ كَانَ وَعْدُهُۥ مَفْعُولًا ﴿١٨﴾

**آسمان به په هغه ورځ په شدت سره وچوی، دا د الله تعالى نافذالعمل وعده ده.**

إِنَّ هَٰذِهِۦ تَذْكِرَةٌ ۖ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلًا ﴿١٩﴾

**يقيناً چې قرآن پند او نصيحت( بلکه د هدايت سرچينه ده) نو څوک چې غواړی( د همدې قرآن په وسيله دې) خپل رب ته( د تقرب) لاره خپله کړی.**

۞ إِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُومُ أَدْنَىٰ مِن ثُلُثَيِ ٱلَّيْلِ وَنِصْفَهُۥ وَثُلُثَهُۥ وَطَآئِفَةٌ مِّنَ
ٱلَّذِينَ مَعَكَ ۚ وَٱللَّهُ يُقَدِّرُ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ ۚ عَلِمَ أَن لَّن تُحْصُوهُ فَتَابَ عَلَيْكُمْ ۖ
فَٱقْرَءُوا۟ مَا تَيَسَّرَ مِنَ ٱلْقُرْءَانِ ۚ عَلِمَ أَن سَيَكُونُ مِنكُم مَّرْضَىٰ ۙ وَءَاخَرُونَ
يَضْرِبُونَ فِى ٱلْأَرْضِ يَبْتَغُونَ مِن فَضْلِ ٱللَّهِ ۙ وَءَاخَرُونَ يُقَٰتِلُونَ فِى سَبِيلِ
ٱللَّهِ ۖ فَٱقْرَءُوا۟ مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ ۚ وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَقْرِضُوا۟ ٱللَّهَ
قَرْضًا حَسَنًا ۚ وَمَا تُقَدِّمُوا۟ لِأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِندَ ٱللَّهِ هُوَ خَيْرًا وَأَعْظَمَ أَجْرًا ۚ
وَٱسْتَغْفِرُوا۟ ٱللَّهَ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌۢ ﴿٢٠﴾

ستا رب پوهیږی چې ته او ستا یوه ډله مؤمنان ملګری د شپې له دوو برخو څخه څه لږه او کله نیمایی، او کله دریمه برخه( د عبادت او قرآن د تلاوت لپاره ) راپورته کیږی، او الله تعالی شپه او ورځ( په دقیقه او منظمه توګه) اندازه کړې، او پوهیږی چې تاسو نشئ کولی( د کال په اوږدو کې د شپو د لنډوالی او اوږدوالی له امله) هره شپه په ټاکلې اندازه عبادت وکړئ( نو دقیقه محاسبه او ټاکلې اندازه یې) درته معاف کړه. څومره چې درته آسانه وی ( په لمانځه کې)د قرآن تلاوت وکړئ. الله تعالی پوهیږی چې په تاسو کې به ځینې ناروغان وی، ځینې به( د روزۍ د ګټلو او علم د زده کړو لپاره)په سفر کې وی، او یو شمیر( مجاهدین او غازیان)به د الله تعالی په لار کې په جهاد او قتال مصروف وی، نو څومره چې درته آسان وی،( په لمانځه کې) تلاوت وکړئ( او زیات تکلیف او زحمت مه ګالئ) البته فرض لمونځونه اداء او شرعی زکاتونه ورکړئ او( د الله تعالی په لار کې د خپلو حلالو شتمنیو په مصرفولو سره) الله تعالی ته احسن پور ورکړئ، هر نیک عمل چې تاسو له ځانه وړاندې راولیږئ، د الله تعالی په حضور کې به یې د لوی اجر او ثواب په شکل کې بیرته تر لاسه کړئ، او له الله تعالی نه ببښنه وغواړئ ځکه الله تعالی ډیر زیات ببښونکې او مهربان ذات دی.

« تمت سورة المزمل بفضل الله و رحمته»

======================